# په پښتو اولسي ادب کې د پښتو ټپې کردار

## "The contribution and role of Pashto tappa in Pashto folklore"

محب الله شیراز♣

**Abstract:**

Pashto tappa is an important genre of Pashto folklore. It has historical and cultural background in Pashto folklore, due to which no one can deny its importance and role in the promotion of Pashto folklore. It will be highlight that how it became a dominant genre in Pashto folklore and how a key role here plays in folklore. An attempt will be here to signify the Pashto tappa in different aspects and thematic study of Pashto tappa. A short history and definition of folklore and tappa will be in this article for the sake of writing of the above topic.

**Key words:** Folklore, Pahto, Tappa, Cultural Background, Literature.

د اولسي ادب یا فولکلورکلمه په اول ځل په ۱۹۴۶ ع کې مستر ویلئیم جونس توماس په لندن کې یوې انګریزي مجلې"دي ایتهنئیم"(۱) ته د خط لیکلو په ذریعه کارولې ده.او دا د انګلیسي ژبې دوو تورو نه جوړلفظ دی چې"فولک"معني خلګ او د"لور" (۲) معني خبري چې مجموعي معني یې"د خلګو خبري"جوړیږي . هم دا رنګه په پښتو کې هم اولسي ادب داسې معني ورکوي چې اولسي معنا دخلګو او ادب معنا ښې خبري ،ژوري خبري او هغه خبري یا لیک چې و انسان ته سکون او خوشحالي ورکوي خو په اصطلاح هغه خبري چې ادبي خوږوالی اوژورتیا او لوړتیا لري . دا د خلګو هغه خبري چې د اولس د عامو کړو وړو سره تړون لري او په ادبي حیثیت لوړتیا او خپل ځان ته یو حیثیت و لري .

د فولکلور په اړه لیکوالان او پوهان هم داسې وایي چې د یو څو اقتباسات به یې د بېلګې په توګه راواخلو: دوست محمد دوست اولسي ادب داسې بیانوي :

> " اولسي ادب د ټولني د ادب هغه برخه ده چې د خلکو په ژبه جاري،له یوې خولې نه بلې ته انتقال شوې او لومړی جوړونکی یې نه وي معلوم او نه د هغه په باب څوک فکر کوي"(۳)

او ورسره داور خان داوؤدهم داسې لیکي:

> "اولسي ادب یا شاعري د هر ملک او قام د تهذیب و تمدن او ثقافت بنیاد دی، په دې کښې د یو ملک یاد یو قام د ویني رنګ،دخاوري بوی،د میو خوند ،د ژبې خوږلت،د

---

♣ Writer, Pashto Literature, Quetta.

غرونو غرور، د دریابونواو نهرونو شور اوزوږ، د میدانونو، ډاګواو مېرو ښکلا، د چمنونو، باغونو او فصلونوتازګي د پولو او لښتوشینکی، د کروندګرواو مزدورانو د تندي خولې، د ګودرد غاړي مستۍ، د سپوږمۍ او ستورو تماشې، د ېغلو د ځوانی پټ پټهوښی ، د بارانونو او طوفانونو موسیقي او د هوا نزاکت او ګډا شامل دي . یعني دا دیو خاص شاعرذاتي او انفرادي خیالات نه دي بلکې د ټول اولس د اجتماعي ژوند عکس دی" (۴)

اولسي ادب ته لکه څنګه چي له نامه څخه واضحه ښکاري چې د خلګو ادب یعني دا معنا یې شوله چي دا رنګه ادبیات داولس له کړو وړو سره تړون لري او دا د خلګو په عام ژوند کي ژوند کوي او زېږي. په دې هکله یو بل لیکوال داسي لیکلي :

"فولکلور د اولسي ژوند دنالیکلو اوزبانیکیسو، نظمونو، شعرونو، سندرو، روایاتو، متلونو هینداره ده چې د اولسي ژوند او د وګړو رسمونه، دودونه، ارزښتونه، کرکې، کړنې، انګېرني لنډه دا چې ټول اړخونه پکښې لیدل کیږي"(۵)

په دې پورتني بحث کښې دا معلومه شوه چې اولسي ادب یا فولکلور د یو قام یا یوې ژبني ټولنې د غړو یا انسانانو هغه نالیکلي نثري او نظمیه اثارو ته وایي چې هیڅ یو لیکوال یې معلوم نه وي او هم دغه اثار د هغې ټولني د کړووړو، رسمونو، رواجونو او د ژوند د معیار او د ژوند د تېرولو ترز ترې واضحه کیږي نو هغه د هغې ژبني ټولني او قام اولسي ادب یا فولکلور بلل کیږي .:

له کله چي انسان په ټولنیز ژوند پیل کړی دی له هغه وخته د اولسي ادب ابتدا پیل شوې ده او چې انسان د کائیناتو له مظاهرو سره مخ شوی دی نو بیا انسان غلی نه دی پاته شوی او انسان د کائیناتو د موجوداتو په رڼا کي خپل د فولکلور بنیادونه لري او بیا چي د مظاهرو د ماخذاتو یا د هغوپه ریښې پوهیدلی دی نو د هغه پوهي تر حده یې په خپلو افکارو باندي قناعت کړی دی او په یونتیجه رسیدلي دي د یو دلیل یا علت پر بنا د توهیماتو ښکار شوی دی نو داسي کېفیات یا احساسات او یا بنیادونه چي انسان یې پر دې مجبور کړی دی چي انسان یې د فولکلور خواته را تمبولی دی او انسان له ابتدا څخه د اولسي ادب برخه درلودلې ده ولي چي د فولکلور تعلق په انسان کي د انسان له ټولنیز ژوند ، احساساتو او تغیراتو سره دی نو ځکه موږ ویلی شو چي د اولسي ادب ابتدا د انسان له هغه وخته شوې ده له کومه وخته چي انسان ټولنیز ژوند خپل کړی دی .

چونکه په پیل کي د انسان سره د علم ،تعلیم او تربیت هیڅ یوه داسي آله او ذریعه نه وه چي انسان پرې څه تربیت او هنریا علم تر لاسه کړی وای .نه داسي وخت وو چي انسان به له پیل څخه دلیک لوست لاره خپله وله ، دانسان فطرت داسي نه دی چي دی به یو څه احساسوي او بیا به یې اظهار نه کوي دا نا ممکنه ده نو د دې فطري کېفیت له لاري موږ وایو چي دانسان د تاریخي او ادبي څرګندونو اولنۍ ذریعه هم دغه اولسي ادب کیدائی شي اود انسان د فولکلور په دنیا کي دغه تکرار د ثقافت

برخه جوړشوی دی او سوکه سوکه چي انساني ژوند له عروج او زوال سره مخامخ شوی وي او د زماني د تېرېدو سره یا خو ختم شوی وي او یا چي ټولنه په ثقافتي او تهذیبي توګه پر مخ تللې وي نوپه داسي حال کي فولکلور هم پر مختګ او ترقي کړې وي .

د اولسي ادب ارتقا هم د انساني ژوند او کائیناتو له پر مختګ سره تعلق لري ولي چي کله هم انساني ټولنیز ژوند ترقي او پرمختګ موندلی دی هم هغه سي یې اولسي ادب هم پر مختګ کړی دی اوپه باقاعده ډول پر اولسي ادب او فولکلور باندي کار د نولسمي پېړۍ (صدۍ) په لومړیو کي پیل شوی دی او باقاعده د اولسي ادب اصناف ، قسمونه او تغیرات د هر صنف د متن او جوړښت په لحاظ مخته راغلي دي .خو تر دې وړاندي ډېر زرګونوکاله مخکي زموږ د افغانستان(۶)د بلخ او باختر سیمي ته دا اعزاز حاصل دی چي د آریایانو د زرګونو کالو د زوړ اولسي ادبیاتو مرکز او زانګوه وه یعني په افغانستان باخترسیمه کي د آریائي اولسي ادب یا فولکلور ارتقا پیل کیږي او تاریخ لیکي چي په هم دغه سیمه کي د انسان راتګ او پېدائښت شوی دی او د آریایانو د لومړنۍ ژبي اوتمدن مرکزي حېثیت لري لکه آراکوزیا ،درینګیانا ،یا باختر ي لومړنی تمدن هم دلته شرو شوی او پالنه یې شوې ده .(۷)د مثال په ډول د باختریانو د زړو افسانوي کیسو پیل او پرمختګ هم په دې سیمه کي شوی دی لکه د (کیومرث)(۸) مشهوره افسانوي کیسه چي په ((اویستا)) نامي مذهبي کتاب کښي یې ذکر شوی دی . په هم دغه کتاب کي دغه سیمه د غنمو د کروندې یا کښت له پاره غوره ګڼل شوې ده او له آمو دریاب څخه تر اباسین پوري مزکه ښېرازه مزکه بولي .او په دې ((اویستا))(۹) کي په "کیومرث" کي د آدم۴ کیسه او بیا جنت ته تلل او بیرته را ایستل ټوله کیسه ذکر شوې ده او بل خوا بیا د کندهار د تاریخي زړو لوښو ،کنډوذکر هم راغلی دی او وائي چي د زرتشت مذهب په بلخ کي دی او د آریایانو مرکز باختر ته مقام حاصل دی چي د غنمو د کروندې ذکر یا د زړو مذاهبو مرکز پاته شوی دی یعني د ټول انساني ژوند د پیدایښت بنیادي وختونه چي آدم اولنۍ انسان دی نو د ادم ذکر تر ټولو اول په هم هغه کیسه (کیومرث) کي راغلی دی چي د کیومرث ذکر بیا مذهبي کتابونو کړی دی او دا رنګه نوري زړې کیسې هم په بیلابیلو مذهبي کتابو کي شته چي انساني ژوند او تاریخ ځیني ښکاریږي د هم دغو اولسي کیسو له لاري موږ انساني تاریخ ته لار موندلاې شویعني په ټولو لومړنیو تاریخي او مذهبي کتابونو کي د انساني ژوند د ارتقا او بنیاد ماخذ له هم دغه کیسوشوی دی . د اویستا څخه وروسته (ویدا) (۱۰)یو مذهبي کتاب چي په ۱۴۰۰ق م کي لیکل شوی دی هم داسي کیسې ذکر شوې دي او په دې ټولو اولسي ادبي کیسو کي ((د کیومرث)) افسانه زړه او لرغونې ده او لوی کردار یې لوبه ولی دی .

د اریایانو لرغوني مذهبي / حماسي کیسې هم موږ ته په دوو ذریعو رارسیدلي دی . اول د اویستا یا د زړو مذهبي کتابو له لاري او دویم د ساک نامي قبیله چي کوچیانه ژوندیې وو موږ ته رارسیدلي دي خو اویستا د ساک قبیلې و تاریخ ته پراخه لار نه ده موندلې البته د باختریانو په هکله یې کیسې

روښانه دي ولي چي باختريان مهذبه ووبنسبت د ساک نو ځکه د باختريانو په ذريعه زباني کيسې او افسانې وجود لري او دغه کتابونه د باختريانو مذهب زرتشت بولي .
هم دا رنګه ذکر کيږي چي په اويستا کي د اويستا په متلونوکي درج دي خوماهرين دوه نظره لري يو دا چي ساک يا باختريان د پښتنو نژاد جوړوي يا پښتانه له دوی څخه اخذ شوي دي او بل دا چي ساک او باختريان د پښتنو دوې قبيلې دي. هم دا رنګه په ويدا چي بل مذهبي کتاب دی کي يوه کيسه :

"د تيارې له ښامار سره د آسماني رب جګړه"(۱۱)

او په اويستا کي نوري کيسې لکه:

"د آزري هاک سره د اوور د رب اترا"(۱۲)

او بله:

"وارونا بيترا"(۱۳)

په دې ټولو کيسو کي تر ټولو زړه کيسه "کيومرث" ده چي پکي د آدم ذکر شوی دی نو ځکه دا باختريان تر ټولو زوړ تمدن لري دا د اول تمدن خلک ښکاريږي . له دې وروسته بيا دا کيسې په فارسي او عربی کي هم راغلې دي او زموږپښتو له هم د فارسي او له لاري راغلي دي .
دلته دا معلومه شوه چي فولکلور يوائې هغه ادبي صنف دی چي د مختلفو کيسو،اولسي شاعری،داستانونو،متلونو،ټپو،ټوکو ټکالو،کيسيو په ذريعه تاريخ،تمدن او ټولنيز آثار ژوندي ساتي چي عين تاريخ هم ځيني مالوميداي شي. او له فولکلور نه د مزاج شناسي او نفسيات هم معلوميدلای شي يعني د پخوانيو نفسياتو ښکارندويي ځيني کيږي په دې برخه کي اولسي نکلونه د مثال په توګه پيشولائي شو.
د فولکلور اهميت او ارزښت هم ډېر زيات دی ولي چي فولکلور په ادبي لحاظ ډيره پراخه لمن لري او د فولکلور څخه د يو قوم يا د يوې تمدني ټولني چي په رسمي او روايتي لحاظ او د ژبي په لحاظ يوه ټولنه او د ژوند کړه وړه يو شان سره لري نو هغه په يوه تمدن او تهذيب هم بدلوي او د دې داهميت په هکله د ميکسم ګورکي نظر څه داسي دی :

"د لفظي هنر پيل په فولکلور کي دی".(۱۴)

معنا چي فولکلور دلفظي هنرڅخه پيل شي نو له دې زياته جوتيږي چي دا د لفظ او څه خوږو ويلو په بابله ډېر اهم رول لري . د فولکلور اهميت موږ په داسي ډول هم څرګندوو:

۱.په فولکلور کي ډېر تاريخي مواد موجود وي .
۲.جديد ژبني اثرات په فولکلور کي د معنا او ګرايمر په لحاظ سره د ژبي لرغونتياثابته وي .

۳.هم دارنګه فولکلور په مزاج شناسي کي هم رول لري .

۴.په فولکلوري کیسو، متلونواو داسي نورو اصنافو کي د طب په هکله هم له غرني بوټواو حیواناتو څخه علاجي نسخې جوړولو کیسې پکي راځي .

ټپه د پښتو اولسي ادب هغه مشهوره نظمیه صنف دی چي ډېر خوندور ، پوست او له لطافته ډک صنف دی . ډېرلرغونی صنف دی . ټپه د پښتو اولسي ادب یواځنی صنف دی چې په ټولو پښتنو کې وجود لري او دا له هیڅ یوې خاص سیمي یا قبیلې سره تړاو نه لري .و ټپه ته لنډۍ یا مصرعه هم ویل کیږي .

د پښتو ټپې چي کوم تعریفونه شوي هغه د یوې اندازې له مخي ټول سره یو شی دي او ټول لیکوالان یې په یوه خوله دي په دې یو تعریف را اخلو.

> "In short we can say that Tappa is a reflective mirror of the romances, patriotism, freedom loving nature, kinship relations and other norms and traditions of Pashtoons. We can see the real picture of social life, religious rituals, economic development, trade and journeys, hospitality, wars and resistance, jewelry, dress, music, foods and so many other things which are the elements of culture and civilization of Pakhtoon society"(15)

**ژباړه**: په لنډه توګه موږ ویلای شو چې ټپه د پښتنو د رومانس یا میني،وطن خوښۍ، د آزادۍ خوښونکی فطرت،د یووالي د رشتو،او نورو پښتني روایاتو اورسمونوهنداره ده. موږ په حقیقت کښې د ټولنیز ژوند،مذهبي رجحان،اقتصادي ترقي، تجارت، مېلمه پالنې،جنګ او مزاحمت،زېورات،لباس،موسیقي،خوراک، او نور داسي ډېر شیان چي هغه د پښتنو په ټولنه کې د پښتنود کلتور او تهذیب تصویر پکښې وینو.

یوبل تعریف به یې راواخلو:.

> "د لنډیویامصریو یا ټپو د شعرتاثیرات او د مقصد ترلاس کیدل تر نورو شعرونو ژراو ښه کیږي، لنډۍ د یوه قسم مار نوم هم دی چې دا مار نسبتاً نورو ته د ژر او لنډ ډول معني ورکوي معنوي تاثیرات یې نسبتاً ډېر دي بل شعریزي لنډۍ دي چې لومړۍ برخه (۹)او دوهمه برخه یې (۱۳) سېلابه کیږي چې په پښتو یې اصلي مصرۍ بولي نو په ذوق او خوند کې دا شعر له نباتو یعني له مصریو سره شباهت لري، او د یو ډول پیښن قبضي (چاړې) نوم هم دی چې د( مصرۍ چاړې )په نامه یادیږي او ټپه هغه شعر

ته ويلای شو چې په تاثير شباهت ورسره لري، يعني لکه يو(( ټپ ))چې پېښېږي دا شعر هم تامل تدبر د ټپ پېښولای شي". (۱۶)

د لنډۍ يا ټپې په هکله څېړونکی دوست محمد دوست هم په خپل کتاب کې داسې تعريفوي:

"لنډۍ د پښتو ادب يوه بې سارې بډايه پانگه ده.زموږ دټولنې د ژوند او ايډياهيڅ خوا نشته چې په لنډيوکې يې انعکاس نه وي موندلی. مينه ،ښکلا ، وصال ،بېلتون،خوښي،خواشيني،تېری ،عدالت ،سرښندنه، وطن پالنه او هر ډول رزمي اوبزمي ايډياپه لنډيو کښې ځای شوې ده.د پښتنو د اولني ادب ، روحياتو،د ژوند د شرايطو،کولتور او دود د پيژندلو،د يوه دايره المعارف حېثيت لري". (۱۷)

" ټپه لکه د چاربېتې،نيمکۍ،لوبې يابدلييوخالص اولسي صنفِ سخن دی او اولسي شاعري سره سم چيکوم خصوصيات تړلې شوي دي هغه په ټپه کې هم موجود دي. د نورو شعري صنفونو برعکس،ټپه د ټول پښتون قام شريک ميراث دی". (۱۸)

ټپه،لنډۍ يا مصرۍ لکه څنگه چې موږ په پورتني بحث کښې بحث کړله په پايله کښې ترې داسې مطلب اخيستلای شو چې دا د هغه لنډي بحر،تېز مصري(خوږ) اثر او د ژور ټپ په جوړولو باندي خپل ځان ثابت کړی دی او ځکه ورته دغسې نومونه هم غوره کړل شوي دي ، او دا دپښتو اولسي شعري ادب هغه يواځنی صنف دی چې په ټولو پښتنو کښې يې خپلې ولگې(جرړې) پيدا کړې دي او تر ننه پورې يې خپل وجود هم هغسې سلامت پاته کړی دی . ټپه په خپله غېږ کښې ښځې ډېر اړخونه او موضوعات د بحث لاندې راوړې. او پښتو د اولسي ادب هغه صنف دی چې زموږ د تاريخ او تمدن څرک هم پکښې خوندې پاته دی .لکه ليکوالان چې په دې ټپه سره اتفاق شوي دي چې تر ټولو تاريخي او زړه ټپه هم داده له کومه چې د اريانا د زاړه تمدن او ژوند آثار ښکاره دي او ټپه څه داسې ده:

سپوږميه سر وهه راخېژه ، يار مې د گلو لو کوي گوتې رېبينه(۱۹)

ددې پورتنۍ لنډۍ يا ټپې په هکله ليکوالان داسې څرگندوي چې دا د پښتنو د ارياېي تاريخ لرغونتيا ښکاره کوي:.

"دا لنډۍ د محتوی له مخې د ارياېانوله هغه دود نه زېږېدلې چې د سپوږمۍ په رڼا کښې به يې د سوما(هوما ،اومه،نمه)بوټي رېبل، او بيا به يې د سوما مست شراب ترې جوړول او څښل به يې نو دا لنډۍ د الفاظو تر بدلون پرته زرگونه کلونه عمر لري".(۲۰)

پښتو ټپه د خپل هيت او پراختيا له وجې ډېره اهمه او جامع ده او تر اوسه يې هيڅ يو خاص تغيرنه دی قبول کړی او هيڅ تبدل يې نه په جوړښت کښې راغلی دی او نه يې په شکل کښې.ځکه خو يې د ټول پښتون قوم مشترک ميراث گڼلی شو.البته که نيم خلگ يې اخيرنۍ مصرعه په دوولس سېلابه کې

وايي نو هغه بيخي د ټپې بحر او خوند او موسيقيت له منځه وړي يعني په دولس سېلابه کي يې داسي وايي:.

سپوږمیه سر وهه راخېژه
یار مي د ګلو لو کوي ګوتي رېبي

دلته په دې پورتنۍ ټپه کښې چې دا د آهنګ او موسیقیت (ه) ځني لري کړې نو هیڅ خوند او موسیقي به پاتې نه شي له دې نه بغېر پښتو ټپې بل داسي تغیر نه دی خوړلی چې مکمل اولنی شکل او آهنګ یې بدل شوی وي .پښتو ټپه د ساخت په هکله ۹ او ۱۳ سېلابه ده او تر اوسه یې هیڅ شکل ندی بدل کړی ټپه یو څه فني خصوصیات هم لري چې موږ یې داسي بیانولای شو:.

۱.د دواړو مصرعو د پاره ضروري نه ده چې همقافیه به وي البته دویمه مصرعه به په (ه) ختمیږي ۲.ټولې ټپې هم یو بحر او وزن لري . ۳.ځني ټپې داسي هم شته چې د هغو د اولي مصرعې او د دویمي مصرعې تر پنځو سېلابو پوري ټکړه هم قافیه وي لکه: .

" زما د عمر سره سمه      میرات شي غمه په خندا دي تېرومه "(۲۱)

پښتو ټپه هم د نورو اولسي اصنافو په شان هر اړخیزه موضوعات په خپله لمن کښې لري چې موږ به صرف د بیلګې په توګه د یو څو موضوعاتو په هکله څوټپې را نقل کړو ولې چې پر هر اړخ یې بېلابیلي ټپې را اخلې د موضوع بې ځیه اوږدوالی راځي :.

"ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
څولۍ مي تنګه زه به کوم کوم ټولومه
چي د خالو لښکري راغلې
زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه
ماځیګر چرته وې لوی مه شې
ماپه منګي کي شین بادرنګ راوړي وونه"(۲۲)

"سوی او غیبت کې ګناه شته دې
ماته مُلا په ممبر پاس ویلي دینه
یار مي طالب دې مخې له راغی
دسپیني خولې به وظیفه ورله وروړمه
که دي زما دیدن یادیږي
د ګودر غاړه اجاره واخله مئینه
زما دي علم په کار نه دی

د اباسين څپې دي يوسه کتابونه
مسافري دي ډېره وکړه
بس که راځه روزي به خدای در رسوينه
په شرعه ټينګ د پاک حضرت شه
په ورځ د حشر شفاعت به دي کوينه
په تور توپک ويشتلی راشې
د ښېننګۍ اواز دي رامه شه مئينه
که په سلام مي خوشحالېږې
زه به دا سرې منګولې تل په تندي ږدمه
زما پرې هسي نوم بدنام دی
د جينۍ سرې شونډې پېزوان خوړلې دينه"(۲۳)

داسي بلا ډېر موضوعات په خپله غېږ کې لري چي د ټولو بېلګې په يوه ليکنه راوړل زما د دې ليکنې په وس کښې نه راځي .

**پايله/نتيجه**:.اولسي ادب يا فولکور هغه ادب دی په کوم کې چې د يوه قوم يا ټولنې هغه بنيادي ټولنيز ،اخلاقي،تمدني،تاريخي،ژبني،نفسياتي او کلتوري اقدار او مزاجونه په ناليکلي شکل اوژبه پر ژبه را نقل شوي او تر هغې ژوند لري تر څوچې هغه ټولنه يا قوم ژوند لري او هغه آثار پکي له ورايه ښکاري کوم چې د هغې ټولني يا قوم په وينه ،مزاج او فطرت کې اخښلي وي يعني د ژوند په هر اړخ کښې خپل اثر او عمل دخل ښکاره کوي که چيري په يو اولسي ادب کښې ديوقوم مزاج او فطرت نه ښکاري نو هغه ته موږ اولسي ادب نه شو ويلای هغه په دې معنا چې بيا د کوم بل چا د خپل ذهن تخليق خو کېداي شي البته د يو قوم يا ټولني اولسي ادب نه. هم دا رنګه د پښتو ټپه هم د پښتون اولسي ادب هغه په زړه پورې خوندور، او لطيف صنف دی چې بلا ډېر خصوصيات لري او د پښتو ټپه له هر رنګه موضوعاتو څخه ډکه ده هغه که د پښتنوقامولي،پښتونولي،د قام تاريخ،نفسيات،طب،لوبې(مشاغل)دماشومانوله پاره د سات تېري او سبق له پاره موضوعات، طنزومزاح،عشقاومينه،قرباني،مېلمهپالنه،پېغور،مېړانه،دپېغلواوزلميانوموضوعات،نفرت،کرکه ،کړنې،هوډ ،سوګنداو داسي بېخي زيات موضوعات په خپله پراخه لمن کښې رانغاړي او ژبه پر ژبه رانقل شوې او تر موږه رارسېدلې دي .بل خوا موږ دا هم ويلای شو چې اولسي ادب وخت په وخت د ارتقايي عمل له وجي تغيرات هم د هغه وخت او حالاتو د معروض سره قبلوي يعني دا هم ثابته شوه چې ا ولسي ادب ساينسي اثرات او قوانين ځای په ځای هم قبول کړي دي .

## حوالې


1.http://en.wikipedia.org/wiki/Folklore

۲.دوست محمد دوست،د پښتو د اولسي ادب لاري،پښتو ټولنه،کال ۱۳۵۶م ،مخ ۱

۳.همدغه اثر

۴.داؤد ،داور خان،پروفېسر ،پښتوټپه،پښتو اکېډمي پېښور ،کال ۱۹۹۹م، مخ ۱۷

۵.کاکړ،برکت شاه،د شفاهي روايت او فولکلور علمي او تحقيقي بنسټونويوه عمومي جايزه، تکتو،پښتو/انګريزي مجله،شماره نمبر ۹ جلد نمبر ۵،پښتو څانګه،بلوچستان پوهنتون ،کوټه، کال جنوري-جون ۲۰۱۳م، مخ ۳۶

۶. .دوست محمد دوست،د پښتو د اولسي ادب لاري، مخ ۳

۷. .دوست محمد دوست،د پښتو د اولسي ادب لاري، مخ ۵

۸. .دوست محمد دوست،د پښتو د اولسي ادب لاري، مخ ۳

۹. همدغه اثر،مخ ۶

۱۰. همدغه اثر

۱۱. همدغه اثر، مخ ۷

۱۲. همدغه اثر

۱۳. همدغه اثر

۱۴. همدغه اثر مخ ۱۴

15. Khalil, Hanif, Dr.Pashto Culture in Pashto Tappa, National nstitute of Historical & Cultural Research Q.U.Islamabad.

۱۶. خان ، منګل، احمد ،څارنوال،منظومې کیسې لنډۍ او غاړې،د زرو وړانګې مجله اداره،کال ۱۳۷۴ لمريز مخ ۱۶.

۱۷. .دوست محمد دوست،د پښتو د اولسي ادب لاري مخ ۷۰

۱۸. داؤد ،داور خان،پروفېسر ،پښتوټپه،مخ ۳۳

۱۹.خاورې، غوټۍ،دپښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون،پښتو ټولنه کابل،کال ۱۳۶۶م مخ ۷

۲۰.همدغه اثر

۲۱. داؤد ،داور خان،پروفېسر ،پښتوټپه، مخ ۳۷

۲۲. خاورې ، غوټۍ ، دپښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون ،مخونه ۳ او ۶.

۲۳. داؤد ،داورخان،پروفېسر ،پښتوټپه،مخونه، ۱۲۱، ۱۰۷، ۹۰، ۷۹، ۶۹، ۶۰ ، ۵۶، ۵۴، ۵۳